# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبري بلوټن

# News Bulletin

**9اسد_سال 1402**



# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

**فهرست مطالب**

عنوان صفحه


سرپل او جوزجان ولايتونوکي شاوخوا ۳ زره کورنيو سره روغتيايي مرستي وشوې---------------------------------1

صد ها خانواده در ولايت بدخشان کمک شدند----------------------------------------------------------------------1

د هېواد په يوشمېر ولايتونو کې له څلور زرو زياتو کورنيو سره مرستې وشوې -------------------------------------2

ذبيح الله مجاهد: د انسان له قاچاق سره به په جدي توګه مبارزه وکړو ---------------------------------------------3

يک سوم حصه قربانيان قاچان انسان در جهان کودکان اند ----------------------------------------------------------5

له انساني قاچاق سره د مبارزې نړيواله ورځ؛ احمد: ورور مې د ايران او ترکيې په لاره لادرکه شو -----------------6

د بريتانيا ديني عالمان: نړۍ ته د افغانستان واقعي انځور وړاندې کوو---------------------------------------------9

په وروستي يوه کال کې د اوبو رسونې د څه باندې ۱۰۰ پروژو بشپړېدل ----------------------------------------10

کرکت بازافغان، لقب بهترين دوش کننده ی ليگ برتر زمبابوی --------------------------------------------------11

د منځنی اسيا سيالی؛ د افغانستان د فوټسال ملي لوبډلې دويم مقام خپل کړ ----------------------------------12

# متن کامل اخبار

## سرپل او جوزجان ولایتونوکي شاوخوا ۳ زره کورنیو سره روغتیایي مرستي وشوي

د وزارت وېب پاڼه



د مهاجرت نړیوال سازمان له لورې د سرپل او جوزجان ولایتونو د مهاجرینو چارو ادارو په همکارۍ د زمري په ۷مه د روغتیایي کڅوړو مرستي وشوې.

یادې کورنۍ، چې مخکې د مهاجرینو چارو ادارو له لورې سروې او د مرستو لپاره مستحقې په نښه شوې وې له ډلې یې په سرپل ولایت کې ۳۴۸ کورنیوته او په جوزجان کې ۲ زره او ۴۲۳ کورنیو سره د روغتیایي کڅوړو مرستي شوي دي.

## صد ها خانواده در ولایت بدخشان کمک شدند

ویب سایت وزارت




ریاست مهاجرین بدخشان از توزیع کمک نقدی برای 534 خانواده با همکاری اداره پناهنده گان سازمان ملل متحد به تاریخ 6 اسد خبرداد.

خانواده های یادشده در ولسوالی های خاش، وردوج، بهارک و یفتل قبلا از جانب ریاست مهاجرین سروی وشناسایی شده بودند.

کمک متذکره در کتگوری های مختلف مبالغ (47 هزار و700 ، 48 هزار و550 ، 61 هزار و800 ، 22 هزار و 600 ، 29 هزرا و 150 و 52 هزار و100 افغانی ) جهت رفع نیازمندی های اولیه، ترمیم خانه و محافظتی به خانواده های مذکور توزیع شد.

**د هېواد په یوشمېر ولایتونو کې له څلور زرو زیاتو کورنیو سره مرستې وشوې**

د وزارت وېب پاڼه




په تېرو اوو ورځو کې په ولایتونو کې د مهاجرینوچارو وزارت د ولایتي ریاستونو او آمریتونو له لارې په ۱۰ ولایتونو کې ځلور زره او ۴۹۸ کورنیو سره د چنګاښ د ۳۱ نېټې څخه د زمري تر۵ مې مرستې شوي.

يادې کورنی،چې مخکې د تېرو جګړو او طبي پېښنو له امله په هرات، بادغیس، پروان، نورستان، قندهار، سمنګان، میدان وردګ، سرپل، ننګرهار او جوزجان ولایتونو کې بېځایه شوې وې د مهاجرینوچارو ادارو له لارې ورسره د یو شمېر همکارو مرستندویه بنسټونو په همکارۍ د خوراکي توکو، نغدي پیسو او روغتیایي کڅوړو مرستې شوي دي.

---

## ذبیح الله مجاهد: د انسان له قاچاق سره به په جدي توګه مبارزه وکړو

طلوع نیوز

له دې سره هممهاله، اسلامي امارت ډاډ ورکوي چې په هېواد کې د انسان د قاچاق په وړاندې به جدي مبارزه وکړي.



**د زمري اتمه (د جولای ۳۰مه) د انسان له چاقاق سره د مبارزې له نړۍوالې ورځې سره برابره ده.**

له دې سره هممهاله، اسلامي امارت ډاډ ورکوي چې په هېواد کې د انسان د قاچاق په وړاندې به جدي مبارزه وکړي.

د اسلامي امارت ویاند ذبیح الله مجاهد په دې هکله وايي:«د افغانستان اسلامي امارت په جدي توګه متوجه دی چې مخنیوی وکړي؛ خو عموماً دننه په افغانستان کې قاچاق نشته؛ خو له افغانستانه بهر شتونلري له بده مرغه له افغانستانه بهر د انسان قاچاق ډېر دی«.

د کډوالو چارو شنوونکې آصفه ستانکزۍ څرګندوي:«د انساني قاچاق دلایل، بېوزلی، بې کارۍ او ټولنیزو او سیاسي مسایلو پورې تړاو لري چې په دې برخه کې د خلکو له پوهاوي سره پر قاچاق چیانو د هغوی د اعتماد مخنیوي کوي«.

لعل محمد یو له هغو زرګونو ځوانانو دی چې پر ناقانونه لارو یې مزل تجربه کړی دی. دی چې د دې لارې د ستونزو کیسې کوي، وايي چې پر دې لار د قاچاق کوونکو له لوري د انسانانو د قاچاق شاهد پاتې شوی دی .

راستون شوی لعل محمد وايي:«خلک قاچاق کېږي، لاس په لاس کېږي، ډله په ډله تحویلېږي، ډېر ظلم کوي ډېر یې ځورول هېڅ یې نهلرل«.

بل خوا یو شمېر هېوادوال وايي، چې د ناقانونه کډوالۍ پر لارو، له وهلو ټکولو، ربړونو او ان لادرکه کېدو سره مخ شوي دي.

د کابل اوسېدونکی عبدالرحمن څرګندوي:«هغه کسان چې په قاچاقي لارې ځي پيسې يې نه ورکول کېږي، پرې ظلم کېږي، يرغمل نيول کېږي پرې درانه کارونه کوي«.

د کابل بل اوسېدونکی عنايت الله هم وايي:«قاچاق د غلا لار ده له يوه هېواده يې بل هېواد ته لېږدوي، د مرګ احتمال شته، وهل ټکول شته«.

دا په داسې حال کې ده، چې ملګرو ملتونو په نړۍ کې د عامه پوهاوي د زياتېدو په موخه، د جولای ۳۰ مه د انسان له قاچاق سره د مبارزې د نړيوالې ورځې په نوم نومولې ده.

## یک سوم حصه قربانیان قاچان انسان در جهان کودکان اند

دویچه وله

دفتر مبارزه با مواد مخدر و جرایم سازمان ملل اعلام کرد که ۳۵ درصد از قربانیان قاچاق انسان، کودکان اند. دبیرکل سازمان ملل متحد گفته است که قاچاق انسان نقض فجیع حقوق و آزادی های اساسی بشر است.

امروز یکشنبه ۳۰ ام ماه جولای برابر است با روز جهانی «مبارزه با قاچاق انسان«.

دفتر مبارزه با مواد مخدر و جرایم سازمان ملل متحد گفته است که قاچاقبران دوران کودکی کودکان را می‌ربایند.این نهاد در صفحه توییترش نگاشته است که ۳۵ درصد قربانیان قاچاق انسان را کودکان تشکیل می‌دهند.

دفتر مبارزه با مواد مخدر و جرایم سازمان ملل متحد، خواستار افزایش همکاری میان مجریان قانون و خدمات اجتماعی برای شناسایی و حمایت از کودکان قربانی قاچاق شده است.

از سویی هم دبیر کل سازمان ملل متحد در رشته توییتی نگاشته است که قاچاق انسان نقض فجیع حقوق و آزادی های اساسی بشر دانسته می‌شود.

وی در بخشی از توییت اش خطاب به کشور های جهان گفته است: «همانطوری که روز پایان دادن با قاچاق انسان را جشن می‌گیریم، باید متعهد شویم تا دنیایی بسازیم که در آن هیچ کسی قابل خرید، فروش و یا استثمار نباشد«.

بیشتر بخوانید: پولیس اینترپول؛ بیش از ۱۰۰۰ نفر به اتهام قاچاق انسان بازداشت شدند

در همین حال یک سازمان حامی حقوق زنان در آلمان به تازگی گفته که قاچاقبران به زنان پناهجو وعده می‌دهند که شغل‌های خوب با معاش بلند در اروپا پیدا می‌کنند، اما در حقیقت برخی از آنان مجبور به تن فروشی در اروپا می‌شوند.

بیشتر بخوانید :فاجعه در مدیترانه: نه فرد مظنون به قاچاق در بازداشت می‌مانند

این سازمان حامی حقوق زنان اعلام کرد که در ۲۰۲۲ تقریبا ۳۵۰ فرد که قربانی قاچاق انسان شده بودند، به سولوودی مراجعه کردند. بر این اساس بسیاری از این زنان از نایجریا هستند.

به صفحه اینستاگرام دویچه وله بپیوندید

قاچاقبران به آن‌ها وعده کارهایی با معاش خوب را در اروپا می‌دهند، به طور مثال در بخش‌های خانه‌داری و یا پرستاری کودک. اما در حقیقت شماری از آن‌ها در اروپا مجبور به تن فروشی می‌شوند. به گفته سازمان سولوودی، افراد زیر سن نیز به صورت فزاینده‌ای قربانی قاچاق انسان می‌شوند.

## له انساني قاچاق سره د مبارزې نړیواله ورځ؛ احمد: ورور مې د ایران او ترکیې په لاره لادرکه شو

د آزادي راډیو




ایران ته په ناقانونه توګه اوښتي یو شمېر افغان کډوال - تصویر له ارشیف څخه

د بیکارۍ او بې وزلۍ د زیاتوالي له امله د افغانانو ناقانونه کډوالۍ زیاتې شوي، چې ورسره د انساني قاچاق پېښې هم زیاتې شوي.

د افغانستان یو تن اوسېدونکي احمد، ازادي راډیو ته وویل چې شاوخوا څلور میاشتې وړاندې یې ۲۴ کلن ورور په ناقانونه توګه د کډوالۍ لاره غوره کړه، خو د ایران او ترکیې په لاره لادرکه شوی.

نوموړي ازادي راډیو ته وویل: "تر هغه وروسته چې هغه د ایران له پولې د ترکیې په لور وخوځېد، له وروستي کس څخه مو واورېدل، چې ورور مې له پښو پاتې و، په ایران کې مو تعقیب کړ، قاچاقبران سم خبر نه راکوي، د پولې هاخوا په ترکیه کې لاس رسی نلرو، چې د کډوالو له کمپ څخه خبر واخلو، ان له سلامتی نه یې احوال نلرو، چې شته که نه".

په همدې حال کې، یوه میرمن چې نه غواړي نوم یې په راپور کې خپور شي او په ناقانونه لاره یې ځان صربیا ته رسولی، ازادي راډیو ته له خپلو خاطرو داسې کیسه کوي.

هغه وايي: "په ځينو پولو کې يې زما کالي لرې ګوزار کړل، زمونږ بيکونه يې واخيستل، پيسې يې واخيستې، د ايران، ترکيې او يونان پولو خپلې ستونزې درلودې، هيڅ نه غواړم به اړه يې خبرې وکړم، د يوه بد خوب او خاطرې په توګه به مې په ژوند کې پاتې شي".

دا په داسې حال کې ده چې نن د جولای ۳۰مه د انساني قاچاق پر وړاندې د مبارزې نړيواله ورځ ده.

د انسان قاچاق، انساني تجارت ته ويل کيږي، چې تر ډېره د جنسي غلامۍ، بې وزلۍ او د قاچاق وړونکو يا نورو کسانو لپاره د جنسي سوداګريزې ګټې اخيستنې په موخه ترسره کيږي.

په ورته وخت کې، د قاچاق وړونکو لخوا د شخص په رضايت يا پرته له رضايته، د يو هېواد له پولو څخه تيريدل هم د انساني قاچاق يا غيرقانوني کډوالۍ يوه بڼه ګڼل کيږي.




ترکيې ته په قاچاقي لارو تللي يوه افغانه کورنۍ

د امريکا د بهرنيو چارو وزارت د جون په ۱۵مه د "۲۰۲۳م کال د انساني قاچاق د مخنيوي راپور" کې ويلي چې افغانستان د هغو ۱۱ هېوادونو په نوملړ کې شامل دی چې حکومتونه يې د انساني قاچاق، د حکومت تر ملاتړ لاندې د پروګرامونو په قاچاق، د حکومت اړوند چارو او يا په ټولو سکتورونو کې اجباري کار، په دولتي کمپونو کې جنسي ګټه اخيستنه، او د ماشومانو جذب او استخدام کې يو مستند پلان او پاليسي لري.

د دې راپور په غبرګون کې د طالبانو حکومت وياند ذبيح الله مجاهد ويلي وو، که څوک په افغانستان کې د انساني قاچاق په جرم ونيول شي، سزا به ورکړل شي.

د هغه په وينا، د افغانستان له پولو بهر انساني قاچاق ترسره کيږي او دا د طالبانو حکومت نه، بلکې د نورو هېوادونو مسوولیت دی.


**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

په دغه راپور کې راغلي وو، چې په افغانستان کې د انساني قاچاق ډېری قربانیان ماشومان دي.

دغه راپور کې زیات شوي، ډېری هغه هلکان چې عمرونه یې د ۱۳ او ۱۸ کلونو ترمنځ وي او بې سرپرسته وي، د خپلو کورنیو له خوا د افغانستان نورو برخو او یا هم له هیواده بهر نورو هیوادونو لکه، ترکیه، ایران او پاکستان ته کډوالېږي، څو د خپلو کورنیو ملاتړ وکړي .




د بلغاریا په یوه ځنګله کې افغان کډوال - ارشیف

د بشري حقونو مدافع، فرشته رامین وایي، د افغانستان وضعیت ته په کتو، حکومتونو ته پکار ده چې د افغانانو لپاره د کډوالۍ قانوني لارې چارې برابرې کړي، څو د ناقانونه کډوالۍ په لاره د انساني قاچاق قرباني نه شي.

نوموړې ازادي راډیو ته وویل: "دولتونه د افغانستان اوسني شرایطو له کبله باید پولې بندول له مینځه یوسي، او قانوني کډوالۍ ته یوه مناسبه لاره او چاره پیدا کړي، څو خلک له خپلو ستونزو له امله قاچاقبرانو او ناقانونه کډوالۍ ته مخه نه کړي، تر څو مونږ په پولو کې د بشري حقونو د نقضولو شاهدان ونه اوسو".

د ملګرو ملتونو سرمنشي انتونیو ګوتریش

په ورته وخت کې د ملګرو ملتونو سرمنشي انتونیو ګوتېرېش، د انساني قاچاق پر وړاندې د مبارزې د نړیوالې ورځې په مناسبت ویلي، چې انساني قاچاق له بشري حقونو او بنسټیزو ازادیو څخه سخته سرغړونه ده.

ښاغلي ګوتېرېش د یکشنبې په ورځ، د یوه ټویټ په خپرولو ویلي، چې په نړۍ کې باید هیڅوک د پیر، پلور او استثمار وسیله نه وي .

د جنسیتي برابرۍ او د ښځو د پیاوړتیا لپاره د ملګرو ملتونو دفتر (یو ان ومېن ) د دې ورځې په مناسبت په یوه ټوېټ کې ویلي، چې ښځې د نارینه وو په پرتله، درې چنده د قاچاقبرانو له خوا له سختې فزیکي تاوتریخوالي سره مخ دي.

ملګرو ملتونو د جولای ۳۰مه، د انساني قاچاق پر ضد د نړیوالې ورځې په توګه نومولې، څو د نړۍ په کچه د خلکو د پوهاوي کچه لوړه کړي.

## د بریتانیا دیني عالمان: نړۍ ته د افغانستان واقعي انځور وړاندې کوو

باختر اطلاعاتي آژانس



د افغانستان اسلامي امارت د عدلیې وزارت سرپرست شیخ الحدیث مولوي عبدالحکیم شرعي له یو شمېر دیني عالمانو سره چې له بریتانیا څخه افغانستان ته راغلي دي وکتل.

په دغې کتنه کې چې د عدلیې وزارت په مقر کې جوړه شوه، د عدلیې وزارت سرپرست یادو دیني عالمانو ته د ښه راغلاست ترڅنګ هغوی ته د اسلامي امارت د نظام په اړه مالومات وړاندې کړل.

نوموړي همدارنګه د عدلیې وزارت د بېلابېلو برخو د دندو او مسؤلیتونو او د اسلامي امارت له بریا څخه وروسته د قانون جوړوني په برخه کې د یاد وزارت پرمختګونو په اړه، هغوی ته مالومات وړاندې کړل.

نوموړي د یادو دیني عالمانو پوښتنو ته هم ځوابونه وویل او زیاته یې کړه، چې د نړۍ ټول مسلمانان سره ورونه دي او مسؤلیت لري، چې په افغانستان کې د اسلامي امارت له نظام څخه ملاتړ وکړي او خپل مسؤلیت ادا کړي.

په ورته وخت کې یادو دیني عالمانو په بېلابېلو برخو کې د اسلامي امارت له پرمختګونو او لاسته راوړنو څخه خوښي څرګنده کړه او ویې ویل هغه څه یې، چې له افغانستان څخه بهر اوریدلي او هغه څه یې چې له نږدې لیدلي ډېر زیات توپیر لري.



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

هغوی ژمنه وکړه، چې د افغانستان عیني واقعیتونه او هغه څه یې چې له نږدې لیدلي په بشپړې امانتدارۍ سره به یې بهر ته ولیږدوي.

## په وروستي یوه کال کې د اوبو رسوني د څه باندې ۱۰۰ پروژو بشپړېدل

طلوع نیوز

بل خوا، د دغه وزارت د دفتر رییس ټینګار کوي، چې پروسږکال د اوبو رسوني پروژې، د حفظ الصحي پروګرامونه، د استنادي دېوالونو جوړېدل او د کلیو د سړکونو رغونه د دغه وزارت تر ټولو لوی فعالیتونه وو.




**د کلیو د بیارغاونې او پراختیا وزارت ملت ته د دولت د حساب ورکولو په پروګرام کې د هېواد په ۲۶ ولایتونو کې د ملګرو ملتونو د ماشومانو د ملاتړ صندوق په مالي مرسته ګټې اخیستنې ته د اوبو رسونې د څه باندې سلو پروژو د سپارل کېدو خبر ورکوي.**

د کلیو د بیارغاونې او پراختیا وزارت د کلیو د بیارغاونې د چارو مرستیال سید احمد مستقیم وايي چې ټاکل شوې، په هېواد کې د اوبو رسونې په برخه کې سلګونه نورې پروژې عملي شي، چې په وینایې د دغو پروژو په پلې کېدو سره به د څښاک پاکو اوبو ته د مېلیونونه هېوادوالو د نه لاسرسي ستونزه حل شي.



Website: *https://morr.gov.af*

Twitter: *https://twitter.com/MoRRAfg*

Facebook: *https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

سید احمد مستقیم په دې هکله زیاته کړه:«د کابل، لوگر، کاپیسا، پروان او بادغیس په ولایتونو کې د څه باندې ۲۰۴ مېلیونه افغانیو په ارزښت ۳۵ کیلومتره سړک کانکرېټ، کرېړل او د جعل اچونې پروژې تطبیق او گټې اخیستنې ته سپارل شوې دي».


بل خوا، د دغه وزارت د دفتر رییس تینگار کوي، چې پروسږکال د اوبو رسونې پروژې، د حفظ الصحې پروگرامونه، د استنادي دېوالونو جوړېدل او د کلیو د سړکونو رغونه د دغه وزارت تر ټولو لوی فعالیتونه وو.

د کلیو د بیارغاونې او پراختیا وزارت د دفتر رییس میرزا محمد شکیب وایي:«د پاکو اوبو د رسولو په برخه کې، د استنادي دېوالونو رامنځته کول او د کلیو د سړکونو په جوړولو کې ډېرې پروژې تطبیق او ځینې یې د تطبیق په حال کې دي».

د کلیو د بیارغاونې او پراختیا وزارت شمېرې ښیي، چې په وروستي یوه کال کې د دغه وزارت له لوري نږدې ۴۰۰ پروژې گټې اخیستنې ته سپارل شوې دي او د اوبو رسونې له شاوخوا ۴۷۰ نیمگړو پروژو نه تېر کال د ۱۰۰ دغو پروژو چارې بشپړې شوې دي.

## کرکت بازافغان، لقب بهترین دوش کننده ی لیگ برتر زمبابوی

آژانس اطلاعاتي باختر




رحمان الله گربز، ملی پوش افغان دنیای کرکت، لقب بهترین دوش کننده ی لیگ برتر زمبابوی را کسب کرد. او دراین فصل، پنجاه دوش برای تیمش انجام داده است و همچنان بیشترین شش نمره گی را به ثبت رسانده است.



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook**: *https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

به گزارش آژانس باختر، لیگ برترکرکت کشورزمبابوی امروزپایان یافت و درپایان، رحمان الله گربز، ملی پوش افغان، لقب بهترین دوش کننده را کسب کرد.

## د منځنۍ اسیا سیالۍ؛ د افغانستان د فوټسال ملي لوبډلي دویم مقام خپل کړ

د آزادي راډیو




د افغانستان او ترکمنستان د فوټسال لوبډلو ترمنځ د یوې مخکېنۍ لوبې انځور

**د افغانستان د فوټسال ملي لوبډلي د منځنۍ اسیا په سیالیو کې د دویم مقام په خپلولو سره د سپینو زرو مدال وګاټه.**

د افغانستان د فوټبال ملي فدراسیون پرون په خپل فېسبوک کې لیکلي چې افغانستان د ترکمنستان په ماتولو سره دغه مقام خپل کړ.

افغانستان په دې لړ کې پنځه مسابقې وکړې چې درې یې وګټلې، یوه یې مساوي شوه او یوه یې وبایلله.

د منځنۍ اسیا د فوټسال سیالۍ د افغانستان، تاجکستان، ایران، ازبکستان، قرغزستان او ترکمنستان د لوبډلو ترمنځ په دوشنبې ښار کې وشوې.




Website: *https://morr.gov.af*

Twitter: *https://twitter.com/MoRRAfg*

Facebook: *https://www.facebook.com/morr.gov.af2*